پښتو

آداب د مرید

مصنف:

محمد حضرت بلال (الحنفی)

ناشر:

جامعه انوار الاحناف (رجسٹرڈ)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمد للہ الذی مرفوع ذاتہ منصوب برھانہ مجرور
شیوناتہ والصلوۃ والسلام علی من کان نبیا وآدم
بین الماء والطین آمابعد

زمامغزوزمسلمانانوسالکانوداکتاب پہ تصوف کے
دحضرت شیخ القران والحدیث وکیل الآحناف
مناظرآھل السنۃ والجماعۃ شھیدابن شھیدغلام
حضرت غلام رحمہ اللہ پہ برکت آوفیضان پہ
آدابودمریدکے لیکلے شوے دے
پہ آمردپیرطریقت ورھبرشریعت خادم الدین
مھتمم وبانی جامعۃ آنوارالآحناف پیرعبدالرازق
صاحب آمر یے ماتہ اوکڑوچہ دمریدپہ آدابوسہ
لیکل اوکڑئ نوماددے سرہ دپیر آومرشد آداب ھم
ذکرکڑل آوتعریفات آو واجبات دمرید آودپیرمے ھم
ذکرکڑل

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

دمریدتعریف اوپیجندل چہ مریدچاتہ وایی

1 مرید إرادہ کونکی تہ وایی اوپہ تصوف کے مریدتہ مریدزکہ وایی چہ إرادہ کونکے وی دآللہ تعالی ددوستئ نودے حقیقت کے دآللہ تعالی مریدوی خودآللہ تعالی دوستی بغیردپاکوالی دنفس نہ اوبغیردپاکوالی دزڑہ نہ نکیگی اونہ حاصلیگی نودے إرادہ کونکے وی دنفس دپاکوالی اودزڑہ دپاکوالی اوبیادنفس پاکوالے اودزڑہ پاکوالے نکیگی اونہ حاصلیگی بغیردیوکامل اومکمل مرشدنہ نودے مجازکے مریدھغہ پیروی چہ ھغہ پاکونکے دنفس اودزڑہ وی

او مریدھغہ چاتہ وایی چہ خپلہ اراد یے دخپل مرشددپارہ کرزولے وی یعنی خپل ٹول اختیار یے مرشدتہ ورکڑے وی

2 اوھغہ تہ وایی چہ خپلہ اراد یے دنورونہ کٹ کڑے وی

3 اوھغہ تہ وایی چہ خپل مرادونہ اومقصدونہ یے پریخی وی دخپل مرشد دپارہ

4 اوھغہ تہ وایی چہ صحي یے ساتلے وی رابطہ دخپل مرشد سرہ پہ مظبوط محبت سرہ اوپہ مظبوطے عقیدے سرہ

5 آوهغه ته وایی چه خپل مرشدورته محبوب وی دخپله زانه آومااله آوعزت نه آو والدنه آو ولدنه آو دخپلے زمانےدڈولوخلقونه 3

6 آوهغه ته وایی چه تعظیم کونکے دخپل مرشدبه وی په زړه آوجبے سره

7 آوهغه ته وایی چه اهتمام ساتونکے به وی دمرشددپټو رازونو

زکه چه صوفیووپدے خبره اجماع کړے ده چی سوک دصوفیوو درازونو خیال نه ساتی نو آلله تعالی به په ده باندے سپی مکررکړی آوده ته به ضرر ورکوی

آوصوفیه فرمایی چه سوک نه مومی آونه محسوسوی دمرشددپاره لوے حرمت آوعزت په زړه کے چه دے منعه کړی دبے آدبۍ نه آودفراخه حرکاتو آوسکناتونه په حضوردخپل مرشدکے نوذیبه دخپلے نتیجے آومقصودنه معزول آومحروم وی

آوصوفیه فرمایی چاچه ضایعه کړوحرمت آوعزت دصوفیوودمجالسو آودے دخپلونتیجو آوهمتونو آومقاصدو طلب کوی نوگویه دے داسے دے لکه چه زانته لیونے وایی زکه چه نتیجے دهمتونونه حاصلیگی آومقصودته سړے نه رسیگی مگرپه کامل آدب سره

8 آو واجب دی په مریدباندے چه دخپل
مرشددخدمت دپاره زان تسلیم کڑی
9 آو واجب دی په مریدباندے چه دخپل
مرشددخدمت دپاره خپل زان مکررکڑی
10 آو واجب دی چه دیبه صادق وی دخپل
مرشدسره
11 آو واجب دی په مریدباندے چه دیبه دخپل
مرشدداَمر آونهی لاندے وخت تیروی
12 آو واجب دی په مریدباندے پوره کول
دآمردخپل مرشدکه دخبرے په معنی
آومقصدپوهیگی آوکه نه پوهیگی خوخپله منڈه به
وهی
13 آو واجب دی په مریدباندے آبادول دخپل زڑه
په محبت آوحرمت دخپل مرشد
14 آو واجب آولازم دی چه شپ شپ به پریدی
چه کاله دروغ وایی آوکله رشتیاوایی آوکله دیوطرف
داری کوی آوکله دبل طرف داری کوی مذب ذب
وی دوومخے وی دووجبے وی
15 آو واجب دی چه دیبه مستغنی آوبے پروا وی
په ذکر دالله تعالی سره

16 آو مکروه ده دمرید دپاره جدایی دخپل
مرشدنه مگرپه اجازت دخپل مرشدباندے مکروه
نده
17 آومریدبه دخپل مرشدمخے ته داسے وی لکه
مړے دغسل ورکونکی مخے ته
18 آونه به کینی په خاص جانمازدخپل
مرشدباندے بلکے هرهغه شی چه خاص وی
دمرشددپاره هغه به دے نه استعمالوی
19 آو دخپل مرشدنه به مخکے نزی مگردحفاظت
دپاره
20 آونه به مخکے کیگی دمرشدنه په سوال کے
21 آو دمرشد دحالا تو آوکارونو جاسوسی به نه
کوی
22 آو دمرشدپه حضورکے به په خشوع آوعاجزئ
سره ناست وی
23 آونه به ظاهره وی سه شے په مجلس دخپل
مرشدکے دپاره داظهاردخپل فضیلت
24 آو وضاحت د.سختے خبرے به نکوی په مجلس
دخپل مرشد
25 آو آواز به نه پورته کوی په آوازدخپل
مرشدباندے

26 او په کم مجلس کے چه دده پیر موجودوی
نودے به بل طرف ته نګوری خپل پیر ته به ګوری
آګرکه دے مجلس کے حضرعلیه السلام هم ناست
وی هغه ته به هم نګوری زکه دے چه حضرعلیه
السلام وینی دا دده دپیر برکت دے دده خپل کمال
ندے زکه حضرعلیه السلام هرسڑے نشی لدے
دویمه خبره داده چه دپیرکم آمانت دمریدسره دے
هغه دحضرعلیه السلام ندے هغه دده پیردے
نودیبه خپل آمانت خپل پیرے ته ورکوی
27 آومریدبه په خپل پیر اعتراض نکوی زکه دا
زهرآوقاتل دی په تصوف کے آوسبب دپاره دبندیدو
دفیض الهی
28 آوکه دخپل پیرنه ظاهری سه خلاف دشریعت
آووینی نوډیرصبر به کوی آوکه صبر نکیدو نو په
آدب آو احترام به ترے نه تپوس کوی چه شک پاتے
نشی
29 آو دخپل پیر په طرف به خپے نه غزوی
30 آودخپل پیرپه طرف به توکانړے نه آچوی
31 آوخپل پیر ته به شاکوی هم نه
32 آو دخپل پیر داجازت نه بغیربه دبل پیرپه
مجلس کے نه کینی آوکه کیناستو آوسه ورته
محسوس شول نودا به دخپل پیربرکت ګنړی

33 آو ډیرے خبرے به نکوی په مجلس دخپل مرشدکے
34 آو پریدی به دخپل مرشدپاره خپل محبوب شیزونه
35 آو هرچانه به زان کمزورے حسابوی
36 آوکه مرشدچاته خطاب کوی یاچاته دخدمت وایی یاچاسره خبرے کول غواړی نودیبه ورمخکے کیگی آوزانکے به قصورآوکمزوری هم محسوسوی چه گنے زه لائق ددے نییم
37 آو دیبه محبت ساتی دهغه چاسره چه دده دمرشد ورسره محبت وی
38 آو دیبه زان ساتی دهغه چانه چه دده مرشد ورنه زان ساتی
39 آو دیبه دشمنی نه کوی دوست دمرشدسره
40 آو دیبه دوستی نه کوی دشمن دمرشدسره
41 آو دیبه دنورو صالحینو دزمانے ملاقات نه کوی مگرپه اجازت دخپل مرشدباندے بلکے دیبه بے پروا وی دنورو صالحینو دزمانے خپلے
42 آو دیبه عقیده ساتی چه زمامرشد ډیرنزدے دے رب العلمین پدے زمانه کے دټولونه
43 آو دیبه عقیده ساتی چه زمامرشد ډیرلوے عالم دے په طریقت کے دټولونه

44 او حقیقي محبت به ساتي دمرشد داولاد
اوخپلوانوسره که مرشدحیات وي اوکه وفات وي
45 او دیبه هیس حال کې دخپل مرشدنه نه جدا
کیګي اوکه معصیت ته یې رابللو نوبیاجدا والې پده
واجب دے اوتابداري یې ګمراهي ده
46 او دیبه په یوشي کې هم دخپل مرشدسره
خیانت نکوي
47 او دیبه همیش والې کوي په هغه ذکرونو چه
کم دته خپل مرشد ورکړی وي
48 او دیبه تسلیمیګي پدیکې په هرحال کې
49 او دیبه رضادخپل مرشدطلبوي پهرحال کې
دالله تعالي درضادپاره نه دیوغلت اوعرض دپاره
50 او دیبه خپل مرشد ته داسې عقیده ساتي لکه
سلفو صالحینوچه خپلو امامانوته ساتله یعني
هغوي به دمشرانو تعظیم کولو نومریدبه هم
دخپل مرشدتعظیم کوي هغوي به په تعظیم
کولوکې دشریعت دحدودونه نه وتل نودیبه هم
دشریعت دحدودونه نه وزي باقي چه سومره
تعظیم کوي أعلی درجوته به رسیګي

آوهغه چه لازم دی په مریدبانده دپاره درسیدو
نیغے لارے ته آومقصود دتصوف ته

1 همیشه به ذکرکونکے وی
2 حضورقلبی به یے صحی آوبرابروی
3 پریخودونکے به وی دنورومحبوبوشیزونو
4 فضول وخت ضایعه کونکے به نوی
5 پریخدونکے دبدو یارانو به وی
6 ملگرتیاکونکے دخو یارانوبه وی هغه یاران چه مرتبو والاوی دوی دپاره به یے هرسه پریخی وی آوددوی سره به وی چه لویومرتبوته اورسیگی
7 آو مشغول به وی په ذکر آوفکر آوعباداتو آوطاعاتوبانده
8 آو مشغول به وی په زانله والی دمخلوق نه چه سومره امکان وی خویغیردکبر آولویی نه
9 آو ډیرے خبرے به نکوی
10 آو خوخوی به مسلمانانودپاره هرهغه شے چه دے زان دپاره خوخوی
11 آو نفرت به کوی دآهل بدعتونه دالله درضادپاره
12 آو تعظیم به کوی دخپل امام دطریقت

13 آو عقیده به ساتی چه مذهب زمونگه دطریقت
دامام حق دے
14 آو په امامانودطریقت کے به خپل امام ته
ترجیح ورکوی خوپدے شرط چه دنورو امامانو
دمقاماتوخیال به هم ساتی آودوی ته به
تسلیمیگی که چرته مخالف دشریعت نوو زکه چه
مسلمان به انصاف کوی خودشریعت مطابق نه
ده هوا آوخوایشاتومطابق
15 آو اعتمادکونکے به وی په ذکردآلله تعالی
دنوروشیزونونه
16 آو واجب دی چه دیبه دسنتو سخت تابداروی
17 آو دنفس سره به جنگ کونکے وی دے دپاره
چه آوزی دبدو آخلاقونه آو آورسیگی خو آخلاقوته
آوچه بدل شی کبر دده په عاجزئ سره
آوسخت والے دده په تحمل سره
آوغضب دده په صبرسره
آوبخل دده په سخاسره
آوحرص دده په زهدسره
آودروغ دده په صدق سره
آوبے صبری دده په تسلیمیدوسره

آوسوچ دده په توکل سره
آوظلم دده په انصاف سره
آوتجاوزدده دحدودونه په آودریدوسره
آوخیانت دده په آمانت سره
آودوکه دده په عدل سره
آووعده خلافی دده په وفاسره
آوهربدآخلاق په خوآخلاقوسره
نوکله چه مرید داصفتونه زانکے راوستل
آوپدے ثابت قدمے آوسیدو آوپدے مستقیم
آوسیدو
نودیه مراد آوگرزیگی آو آوبه رسیگن درجودکمال
ته
آوداخل به شی په شماردسړوکے
مرادهغه ته وایی چه آلله تعالی دده ددوستئ
إراده کړی وی
آومریدهغه ته وایی چه ده دآلله تعالی ددوستئ
إراده کړی وی
لکه دیاړی حضرت صاحب مبارک رحمه الله زکه
دے زمانه کے دے مراد وو دا یو مسلم حقیقت
دے

فائده دے مسائلو تفصیل دآیاتونو او احادیثونه
امام غزالی رحمه الله
اوعلامة سعیدالسیدمحمدابی الهدی الصیادی
رحمه الله په خپلو کتابونوکے ثابت کړے دے
احیاعلوم الدین5ج270ص العقدالنضیدفی آداب
الشیخ والمرید20ص

دویمه مسئلة قرآن کریم ټول تصوف دے صرف
500 آیاتونه احکام دی اوهم دغه شان احادیث
ټول تصوف دے صرف3000 احادیث احکام دی
زکه علم په دوقسمه دے ظاهری اوباطنی الحدیث
5ص مع حاشیة 3ج235ص مصنف ابن ابی
شیبة

اوماصرف خلاصه راجمعه کړه دوجے
دزیاتومصروفیاتونه
او دوجے داوگدوالی دکتاب نه

دریمه مسئلة ددے ایاتونو آو آحادیثونه فرضیت دتصوف هم ثابتیگی زکه دغه ټول بدصفتونه دزانه ویستل فرض دی

آودغه ټول خه صفتونه زانکے راوستل هم فرض دی

آودکاربغیردتصوف نه نشی کیدے آوگورئ

1ج284ص مرقاة 5ج32ص احیاعلوم الدین

3ج382ص تفسیرمظهری تنبیه العلماءوالملوک علی فرضیة السلوک

سلورمه مسئلة ددے تصوف دپاره دیوکامل شیخ آومرشدضرورت دے2ج 52ص تفسیرمظهری 3ج 184ص تفسیرکبیر120ص العقدالنضیدفی آداب الشیخ والمرید5ج270ص احیاعلوم الدین

تعریف دپیراومرشداوشیخ په تصوف کے

1 هدایت کونکی ته وایی نوکه هدایت کونکے نوی
نوپیر اومرشد اوشیخ به نوی
2 تربیت کونکی ته وایی نوکه تربیت کونکے نوی
نوپیر اومرشد اوشیخ به نوی
3 اوچه مرتبے دکمال رسیدلے وی کامل اومکمل
وی
4 اوهغه ته وایی چه خلقوته الله خایی دخپلو
اقوالو افعالو احوالوپه ذریعے سره یعنی داسے
خبرے کوی چی تاته الله یادوی اوداسے کارونه
کوی چه تاته الله یادوی اوداسے حالاتوکے گرزی
چه تاته الله یادوی
5 اوهغه ته وایی چه کله تاته نصیحت کوی
نوپوهوی دے اوچه کله دے مریدکڑی نوتصوف کے
دے مخکے بوزی اوچه کله دے تصوف مخکے
بوزی نولاره درته خایی
6 اوهغه ته وایی چه لازموی پتاباندے تابداری
دقران اوحدیث
7 اوهغه ته وایی چه تالرے ساتی دمحدثاتو
اوبدعاتو

8 آوهغه ته وايي چه ظاهرآوباطن يې په شريعت برابروی آو يو ذره هم دشريعت مخالف نوی
9 آوهغه چه ظاهر آوباطن يې په شريعت برابروی نوده پسے اقتدا صحی ده
10 آو هغه چه زانته پير آومرشد وايي آو علم دشريعت نلری دده نه بيعت کول ناجائزدی زکه دده عمل آو عقيده هم خرابه وی زکه چه عمل آو عقيده په علم صحيکيگی آو که سوک خطا شوے وی آوبيعت يې ترے کڑے وی نوماتول ددے بيعت لازم دی
11 آوهغه ته وايي چه جوندے کونکے دمڑو هډوکو وی په ذکرسره
يعنی جوندے کونکے دلطائفو وی په ذکرسره ياحقيقت کے مڑه هډوکی جوندی کوی په کرامت سره
12 آوهغه ته وايي چه جوندے کونکے دسنتو وی
13 آومڑه کونکے دبدعاتو وی
5ج270ص احياعلوم الدين 20ص
آلعقدالنضيدفی آداب الشيخ والمريد
3ص آبوالمنتهی حاشية

صفات آو واجبات دپیر آومرشد په تصوف کے

واجب دی چه عالم به وی په آمر بالمعروف آونهی عن المنکر باندے
2 واجب دی چه عالم به وی په آفعالو آوکارونو دعبادت باندے
3 واجب دی چه پاکے آهل السنة والجماعة عقیدے والاه به وی
4 واجب دی چه عالم به وی په آحکامو دطریقت باندے
5 واجب دی چه کامل به وی په طریقت کے
6 سخاکونکے به وی
7 آوپه خپله به هم سالک وی آونوروبه هم وریسے په طریقت کے اقتدا کڑی وی
8 خائستة آخلاقو والاه به وی
9 زهدکونکے به وی په دنیاکے
10 عاجزی کونکے به وی
11 مشقت آوتکلیف برداش کونکے به وی
12 صاحب دوجد آوحال به وی
13 رشتیاویونکے به وی
14 صاحب دفراست به وی

15 مبرا آوخالی بہ وی دسختو خبرو بیانولونہ
16 دعوی کونکے آولویی بیانونکے بہ نوی دزان
خپل
17 دخپل پیر آومرشدسرہ بہ محبت کونکے وی
18 حفاظت کونکے دخپل حرمت آوعزت بہ وی پہ
دنیا آو آخیرت کے
19 آو دووصفتونہ داللہ تعالی بہ پکے وی
یوصبردویم ستریعنی دخلقوغیبونہ بہ پٹوی
20 آو دووصفتونہ دنبی علیہ السلام بہ پکے وی
یومحبت دویم رحمت
21 آو دووصفتونہ دابوبکرصدیق بہ پکے وی
یوسخادویم صداقت
22 آو دووصفتونہ دعمرفاروق بہ پکے وی
یوآمربالمعروف دویم نہی عن المنکر
23آو دووصفتونہ دعثمان ذی النورین بہ پکے وی
یوحیادویم تسلیمیدل
24 آو دووصفتونہ دحضرت علی کرم اللہ وجھہ بہ
پکے وی یوکامل زھد دویم شجاعت

دنفی آثبات طریقه

دڅولو ډومبئ ساه بنده کړي دآولے کلمے لادنامه نه یعنی دنوم نه شروع کړئ آوقالبی پورے یے بوزئ آو اله دخئ اوګے پورے بوزئ آودالا الله ضرب په زورسره په قلب داسے را اوغرزوئ چه حرکت آوحرارت ترنورولطائفواورسیګی شمارپه تسبویاپه ګټوکوئ آوچه کله ساه تنګه شی آونوره آیسارے دے نشی نوپه طاق عددیے دپریخودوپه وخت په تصور کے محمدرسول الله او وایئ آودا دعاهم په تصورکے او وایئ هر زله ساه بندولونه مخکے

اِلٰهِیْ آنْتَ مَقْصُوْدِیْ وَرِضَاکَ مَطْلُوْبِیْ آعْطِنِیْ مَحَبَّةَ ذَاتِکَ وَمَعْرِفَةَ صِفَاتِکَ

آوددے سلورو معانیو نه دیوے معنے خیال زان سره هم اوساتئ

لَامَعْبُوْدَاِلاَّ اللّٰہَ لَامَقْصُوْدَ اِلاَّ اللّٰہَ لَامَطْلُوْبَ اِلاَّ اللّٰہَ لَامَوْجُوْدَ اِلاَّ اللّٰہَ

لیکن دمعبود آومقصود تکرار زیات کوئ زکه چه ستاسو میلان وحدة الوجودطرف ته لا ړه نشی

آستغفار دقادريې طريقې

اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الَّذِىْ لَا اِلٰهَ اِلاَّ هُوَالْحَىُّ الْقَيُّوْمُ وَآتُوْبُ اِلَيْهِ

دغه آستغفارشريف آگركه په آسباقوكےداخل ندے خومشائخ دقادريې شريفې يې دتزكيې دنفس دپاره خپلوسالكانو مريدانوته وركوى آستغفارشريف روزانه313زله لوستل دى په مطابق دتعداد درسولانوعليهم السلام آودے دلوستلو دپاره بهترين وخت دتهجدونه روستو آودصبحه صادق نه مخكې دے آوهم دا دمؤمنانو صفت آلله تعالى بيان كړے دے

وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِاَلآيَة وَبِالْاَسْحَارِهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ اَلآيَة

اودآستغفار لوستلو په وخت كے خپل حضورپه نفسى لطيفه كے ساتئ آوكه دغه وخت لوستل پاتے شى نوبيادمازيگرنه روستو لوستل پكاردى

درودشریف دقادریے شریفے

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍوَّآلِہٖ وَعِتْرَتِہٖ بِعَدَدِکُلِّ مَعْلُوْمٍ لَکَ

آخفی لطیفہ حضورساتل دی اوپہ جبے سرہ لوستل دی اوعطرلگول دی اودمدینے منورے پہ طرف مخ کول اوکیناستل دی اوپہ آخفی لطیفہ دنبی علیہ السلام داخفی لطیفے مبارکے نہ فیض حاصلول دی دا افضلہ طریقہ دہ اگرکہ عطرنہ لگول اودمدینے منورے پہ طرف نہ کیناستل هم جائزدی اوخپے غزولوکے یاگرزیدو راگرزیدوکے یابے اودسہ لوستل دقادریے شریفے دمشائخوپہ نزدجائزندی زکہ چہ گرزیدو راگرزیدوکے بے التفاتی دہ اوبے اودسہ لوستلوکے ثواب نمیگی
اودعاشقانو اوسالکانودرودشریف نبی علیہ السلام پہ خپلہ اوری اودرودشریف روزانہ 1000زلہ ویل دی

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

مرکز علوم و معارف

جامعہ انوار الاحناف (رجسٹرڈ)

میں ناظرہ، حفظ القرآن، تجوید، درس نظامی معہ دورہ صغریٰ
پڑھائی جاتی ہیں۔

نوٹ:

مخیّر حضرات سے تعاون کی اپیل ہے۔